**د ښاغلی انجنیر "زکریا" تر کاسی لاندی نیم کاسی ارمان**

لیکونکی : داکتر کریم غروال، اتریش

"ها تر کاسی لاندی خو نیم کاسی وی" تر عنوان لاندی لیکنی ته غوارم چه څه ولیکم. د ښاغلی انجنیر زکریا لیکنه داځرګندوئ چی نوموړی به پاک نیت سره د هالنډ په غونډی کښی ګډون نه وه کړی. په پښتو کښی یو متل دی: "د دروغو مزل لند دی". نوموړی په دی لیک کی له سپین سترګی څخه کار اخیستی دی ـ نوموړی حتی ددی لیک د لیکلو په وخت هیره کړی وه چه په دی کنفرانس کښی نور دیرو زیاتو افغانانو برخه درلوده او هغوی به د نوموړی دروغونه دیر ژر رسوا او د دی تر کاسی لاندی نیم کاسی هیلی به ژر په ګوته شی!
فارو د افغانی پناه غوشتنکو یوه مستقله اوازاده بین المللی ټولنه ده او په هیڅ کوم خوا پسی ندی تړلی ـ دا چه د تاسو په شان کسانو هم د فارو ټولنی کنفرانس کښی برخه درلوده نو ددی ټولنی واقعاً د دیموکراسی پراخه زړه او حوصله په اثبات رسولی دی. په ربښتیا که تاسو سره افغانی غیرت موجود وای نو تاسی باید د داسی بد ګمانی په اساس د فارو د غنډی کنفرانس کښی برخه اخیستلو مالی مصرف په خپلو اوزو اخیستلی وای ـ اما لیدل کیژي چه تاسی د فتنی لپاره په دی کنفرانس کښی ګدون درلود ـ هم دی خوړلو او هم دی شر جوړولو مرام وو. نظر د تاسو پورتنیو صفتونو لازم ندی چی د تاسو د بربن دروغو لیکلو په اروند څه ولیکل شی. اما لکه چه فارو د دیموکراسی څخه د تاسو په مقابل کښی کار اخیستی دی ـ نو زه به هم د دیموکراسی په احترام سر بیره ستاسو د نیمګړتیا وی ولیکم.
تاسو لیکلی دی چی شاغلی روستار ترکی په فرانسوی ژبی وینا وکړه. او د دی په وینا حتی څلور تنه افغانان هم پوه نشول. بلی شاغلی دوکتور روستار ترکی په فرانسوی ژبی وینا وکړه اما د نوموړی وینا ترجمه په افغانانو باندی ویشل شوی وه. خدای دی وکړی چه تاسودا هیر کړی نه وی!
تاسی په دیر مکار شکل سره خپلی لیکنی ته دوام ورکوی او داسی فریادونه کوی چه په دی غونډه کښی یوازی تنقیدونه او سپیری خبری د کابل حکومت پر ضد کیدی او یوازی میرمن شکریی بارکزی، شاغلی جلالزاده د شهری انکشاف وزارت مرستیال او د امیر امان الله خان زوی شهزاده احسان الله د حکومت ښه کارونه یاد کړل او د مثال د پاره تاسی د میرمن شکریی بارکزی وینا یاده کړی ده او لیکی: میرمن شکریی بارکزی په وینا کښی وویل چی زه په انګلیسی، فارسی او پشتو ژبو حاکمیت لرم اما د انګلیسی او او پشتو ژبی د جنګ ندی نو زه په فارسی ژبه وینا کوم.
واقعیت ئی داسی وو چه هغی شروع وکړه: "من از کابل جان آمده ام. من به زبانهای انګلیسی، فارسی و پشتو حاکمیت دارم ـ چون زبانهای انګلیسی و پشتو زبانهای جنګ هستند، پس من به فارسی شروع میکنم." هغی خبروته دوام ورکړ او وئی وویل چه سر بیره پر کمبودیو او مشکلاتو بیا هم په افغانستان کښی دیر کارونه شوی دی یعنی فابریکی، کورونه، سرکونه او مکتبونه جوړ شوی دي. میرمن شکریی بارکزی زیاته کړه چه په پلخمری کشی د سمنتو فابریکه ز ما میره او د کرزی صاحب ورور په ګده سره جوره کړی ده. اما دائی و نه ویل چی د دوی فابریکه د افغانستان د بیا ودانولو په پیسو باندی جوړه شوی ده لکه نوری شخصی فابریکی، کورونه د کرائیو د پاره یعنی دا غله او چپاولګر د دی جرئت هم لری چی په داګه سره د ا خیانتونه بیا د حکومت د مثبتو کارونو په نوم اعلانوی ـ تاسی پر ملت مین او د صلحی تژی کله هم داسی هذیانونه لیکی چه ګواکی ستاسی تر مخه تر کاسی لاندی نیم کاسی پروګرام دی.
میرمن شکریی بارکزی باید په غروراو مسکا سره د خپل میره او د کرزی دوروریه غلا باندی جوړه شوی فابریکه د کابل دحکومت دښو کارونو په توګه معرفی کړی، ځکه اوس همدا قاتلان ـ خلقیان، طالبان او ګلبدینیان سره د "افغان ملت" ګروپ د کمونستانو په شان په چور او چپاول باندی شروع کړی دي. میرمن ملالی "جویا" د میرمن شکریی بارکزی دمسکا څخه ډکه بی رحمه ډرامه ګوری او مجبوریژی چی د واقعیت څیره د میرمن شکریی بارکزی وینا اوریدونکیو ته په ګوته کړی ـ اوس هلته کاوبائی حالت دی څوک چه زوروردي هغه هر څه تر لاسه کولای شی. څرنګه چی تاسی د واقعیتونه سره دیر آشنائی نلری، له همدی کبله هم تاسو د پوهی تعریف سره لژ څه مشکلات لری ـ شاید د تاسو په نزد کی د پوهی تعریف چور او تالا وي.
ښاغلی جلال زاده وویل چی مونږ ډیری پروژی لرو او د نورو پروژود را پیدا کیدو هلی ځلی هم کوو او اوس فعلاً زمونږ وزارت دولس مسلکی کسانوته ته ضرورت لری او پیدا کیدل ئی مشکل دي او هر څوک چی راځی نو مونږ په میاشت کی هر یو ته څلور زره او یا پنځه زره ډالره معاش ورکوو. هلته اوس د ډالرو معاملی روانی دي!
یو افغان ورته راپورته شو چی ما یوه پروژه د المانیانو سره په ګده برابره کړی ده چه د افغانستان دولت ته هیڅ تاوان نه رامنځ کوی اما دا دری کاله کیژی چه وربا‌ندی لګیا یم چی دا پروژه هلته شروع شی اما له بده مرغه تر اوسه پوری بریالئ نشوم دا ځکه چی په دولت کښی چور او تالا زیاته او بی له دبل رشوت څخه هر خه کول هلته نا شونی دي.
د مکتبونو جوړیدلو تبلیغ اسان دي اما په واقعیت کښی د داسی مکتبونو پرانستل یوازی د تعداد ډیریدو تبلیغاتی هدف دي او په عمل کښی صنفونه، کتابونه او معلمان نه شته او ماشومان په ځمکو باندی ناست دی او د ورکتون په شکل ماشومان هلته ساتل کیژی.
د سرکونو په جوړولو کښی هم همدا قاتلان او تالاګر مستقیماً برخه لری یعنی ټول قراردادونه د دوی او د دوی پلویانو په لاسونو کښی دی او پدی شکل د سرکونو جوړیدل هم په سرعت سره ده کمو پیسو په لګشت باندی پای ته رسیژی اولګ وروسته به دا سرکونه چلی چلنی شي!

تاسی نور هم وړاندی ځی او وائی چی پدی کنفرانس کښی دری ډلی موجودی وی. د دی څخه څرګندیږی چی تاسی د ډلو تقسیم سره پوره اشنائی لرئ!
پدی کنفرانس کښی یوازی دری تنو د کابل څخه ګډون درلود او یوازی دوه تنو د کابل حکومت کارونه د پر مخ تګ په توګه وروپیژندل سره د شهزاده احسان الله.
د ښاغلی شهزاده احسان الله تګ افغانستان ته د تشریفاتی شرایطو لاندی صورت نیسی هغه ته د کابل ځنی مارکیتونه د ښاغلی فهیم او او نورو ورته تجارتی ودانی او ځینی نور ځایونه او شخصی فابریکی چه دا ټول د افغانستان د بیاودانولو په پیسو باندی جوړی شوی په ګوته کری شوی دی نوموړی ئی د ځان سره د معلومات په توګه د مثبتو کارونو په څیر راوړی د نوموړی نوم د خپلو خبرو تصدیق لپاره دلته راورل بی ځایه بریښی.
نورو ټولو افغانانو په شمول د میرمن ملالی جویا د حکومت کارونو ته اندیښنی ښکاره کولی او د دولت بی کفایتی او چور او چپاول ته ئی ګوتی نیولی لکه چه دخارجی نړی ژورنالیستان مسلسل د دی حکومت داسی خالیګاوته ګوتی نیسی.
تاسی زیاته کړی دی چی په دولت کښی کمونستان، ګلبدینیان، مجاهدین او طالبان برخه لری او په هالندکی میشته کسان د دی څخه بی برخی دی لدی کبله دوی د دی حکومت سره تضاد لری.
شاغلی انجنیر زکریا، د شاغلی کرزی حکومت د کمونستانو حکومت څخه کوم توپیر نلری یوازی توپیر ئی دا دي چی جارج دبلیو بوش د زلمی خلیلزاد په مرسته اروپائی حکومتونه و غولول. او د دسامبر میاشتی د یولسمی بی رحمه او وحشی عمل په وسیله د اروپا او د نړی نورو حکومتنو د تروریستانو د حملی پر ضد د امریکاد متحده ایلاتو د قوا سره ګډ افغانستان ته داخل شول او اوس څرګندیږی چی د قاتلانو او تالا ګرو مشر ښاغلی کرزی ورځ په ورځ د پخوانیو قاتلانو او د اوسنیو قاتلانو تعداد په حکومت او دولت کښی زیاتوي. د دوو فرانسوی ژورنالیستانو راپور دا څرګندوی چی شاغلی جارج دبلیو بوش ارزو نلری چی بن لادن ووژل ښی لکه چی دا راپور ئی افغان ـ جرمن آنلاین هم نشر کړی دي.
المانیان نه غواړی چی د پښتنو په سیمو او یا نورو سیمو کښی د عام قتل په پروګرام کښی برخه ولري او فرانسه هم د وروسته کیدو په فکر کښی دي. اوس د قاتلانو او چور تالا ګرو مشر ښاغلی کرزی خپل ګامونه دیر شرمناکه عمل ته اخیستی دي او غواړی چی په افغانستان کښی نوره ګډوډی هم منځ ته کړی او په رسمی شکل سره آی اس آی لاس د افغانستان په تباهی کښی لا اوزده شی. دا همیش واقع شوی دي چه د حکومتونود مداخلی نه پرته دسرحد د دوارو غارو قومونو د قام د مشرانو پریکړو باندی سره ناست دی او هیڅ وخت د حکومتنو له خواد دالرو قومی مرکی ندی جوړی شوی او قومونو د دی لپاره حکومتنوته د مداخلی موقع ندی وړکری. دا چی د افغانستان قومونه د حکومت څخه راضی ندی او ګیلانی غل لارنیونکی کسان سره راټول کړی. اما دا دول مرکی به په داخل کی په قومونو باندی اغیزه ونلری، کوم چی ښاغلی کرزی یی ارزو لری.
او دا ناپوهه کرزی په د پاکستان تجربه کاره آی اس آی ته د زیاد تره فتنو زمینه برابره کړی. دښاغلی جارج دبلیو بوش په امربه د طالبانو ترنامه لاندی ټول پښتانه تباه کوی او طالبان اوس هم په دولت او هم خارج د دولت څخه نازوی، ده د طالبانو او القاعدی سره ښاغلی جارج دبلیو بوش ته تاریخی خدمتونه کړی. دی ـ ښاغلی انجنیر زکریا همیش لپاره زیار کاږه چی پر ملت ایمان ولری او نه په خارجی قواو.
سی آی ای او آی اس آی په کالونو، کالونو ګده کارونه سره کړیدی او دی دواړو په ګده دا ټول جهادی رهبران او قوماندانان او همدا رنګه د فعلی حکومت غړی تربیه کړی او تر کنترول لاندی ئی دي. اود "افغان ملت" ګروپ د ګلبدینیانو، طالبانواو خلقیانو خوندی کول د ځان وظیفه بولی.
مونږ نه غواړو چی د افغانستان ملت د خارجیانود هدفونو دتر لاسه کوولو لپاره ټوټه ټوته شی او مونږ نه غواړو چی رشتنی پښتانه محوه سی او پر ځای یی خرڅ شوی پشتانه ونیسی. مونږ نه غواړو چی سبا بیا په تاجکو او هزارو تر منځ جګړه وشی ځکه غوشتل کیزی چه دا دوه قومونه په آخیری پړاو کښی له مینځه ولار شی. ټول بی ګناه پښتانه زندانونو ته اچول شوی دي او د دنیا مختلفو مملکتونو کښی د زجر او وهلو سره مخامخ دي او همدا خرڅ شوی پښتانه د ترجمانی په پلمه د پنځلسوزرو ډالرو په بدل دا پښتانه مرګونو ته برابر کړی دي.
باید یادونه و کړم چی هر یو د ترجمانی لپاره په میاشت پنځلس زره ډالره اخلی. داخل او خارج کی د ډالرو معاملی روانی دي.
ښاغلی انجنیر زکریا د تاسو په لست کی "د افغان ملت" ګروپ نه وو ذکرشوی، شاید تاسی به د کوم علت له کبله د دی ګروپ نوم پخپل لست کښی اخیستی نه وه ، نو زه غوارم چه ستاسی دا نیمګرتیا هم پوره کړم.
په کابل کښی طالبان معاشونه لری او دولتی کورونه ورکړ شوی دي، د ګلبدین خلک په کابینه کښی ناست دي، خلقیان او پرچمیان حتی د ښاغلی کرزی سره سنګر نیول دي، پوهنتونونه د طالبانونه او اخوانیانو په لاس کښی دي. تش پر نامه د کابل دفاع وزیر وردګ په ډاګه سره اقرار وکړ چی هغه پاکستان کښی د آی اس آی غړی وو او هغه علاوه کړه چی نه یوازی نوموړی بلکه ټول رهبران د ای اس ای غری دی "د افغان ملت" مشر په 2000 کال کښی شامل شوی دي.
پس د دی جنایتکارو څخه پارلمان او حکومت باید پاک شی او بیا کیدای شی چی د افغانستان سرحد څخه بهر هم قدمونه واخستل شی. تر څو چی رالیژل شوی کرزی سره د قاتلانو او چور چپاوکونکو حکومت دوام لری نو دا تنقیدی او سپکی خبری به اوری او امید دی چی د تاسو تر کاسی لاندی نیم کاسی ارمان پوره شی.

پای